مجله علمی- تحقیقی بین المللی دیوان
دیوان نړیوال علمي- څېړنیز ژورنال
مجلة دیوان الدولیة للبحوث العلمیة
DİWAN Uluslararası Bilimsel Araştırma Dergisi DİWAN International Scientific and Research Journal
ISSN: 2706-6428 E-ISSN: 2707-7462
دوره ۵؛ شماره ۲؛ تابستان و خزان ۱۴۰۳
Volume 5th; Issue 2nd; Summer & Fall 2024

# په اسلامي فقه کې په ناسمه فتوی ورکولو باندې د مالي تاوان حکم
# حکم تعویض الضرر المالي الناجم عن إصدار الفتوی الخاطئ في الفقه الإسلامي
# The Ruling on Financial Compensation for Issuing Incorrect Fatwas in Islamic Jurisprudence
# İslam Hukukunda Yalan Fetva Vermenin Maddi Tazminat Hükmü

Doi: https://doi.org/10.69892/Diwan.5210

نقیب الله ثاقب[1]

| Makale Bilgisi / Article Information | | معلومات مقاله / بیانات المقال |
|---|---|---|
| Makalenin Türü/Article Type: Araştırma makalesi/Resarch Article | | نوع مقاله / نوع المقالة: تحقیقی / البحثي |
| Geliş Tarihi / Received Date: | 06.02.2024 | تاریخ دریافت مقاله / تاریخ استلام المقال: |
| Kabul Tarihi / Accepted Date: | 28.04.2024 | تاریخ پذیرش مقاله / تاریخ قبول المقال: |

Bu makale, Turnitin yazılımınca taranmıştır. İntihal tespit edilmemiştir

This article has been scanned by Turnitin. No Plagiarism Detected.

این مقاله توسط نرم افزار تورنیتین Turnitinبررسی شده Plagiarism یا سرقت ادبی تثبیت نگردید.

قد خضع المقال لبرنامج فحص الانتحال Turnitin و لم یثبت انه من السرقات الا دبیة

نحوۀ ارجاع دهی از این مقاله در پاورقی:
نقیب الله ثاقب، " په اسلامي فقه کې په ناسمه فتوی ورکولو باندې د مالي تاوان حکم"، *مجله دیوان* ۲/۵ (سرطان ۱۴۰۳)، ۱۶۹- ۱۸۸.

Atıf:
Naqibullah Saqib, "İslam Hukukunda Yalan Fetva Vermenin Maddi Tazminat Hükmü", *Diwan Dergisi* 5/2 (Temmuz 2024), 169-188.

[1]. پوهنیار، د هلمند پوهنتون شرعیاتو پوهنځي د علمي کادر غړی، naqibullahsaqib426@gmail.com
ORCID: 0009-0009-1092-9570

**لنډيز**

کله چې مفتي فتوی ورکوي، د اسلامي فقهي په قواعدو به معلومات لري. مفتي چې په کوم مذهب کې فتوی ورکوي، د هغه مذهب تګلاره به ورته معلومه وي. فتوی په اسلامي فقه کې د سوال جواب ته ويل کېږي. زموږ هدف له دې څېړنې څخه  په اسلامي فقه کې په مفتي باندې د ناسمې فتوی ورکولو له کبله د مالي تاوان حکم بيانول دي. زموږ له تحقيق څخه دا نتيجه په لاس راځي، کله چې مفتي په خپله فتوی ورکولو کې سهوه شي، دغه سهوه يې د علم د لږوالي او يا د بې پروايي له کبله وي او مستفتي د مفتي په فتوی باندې عمل وکړي  او له دغه عمل څخه مالي تاوان رامنځته شي، نو په مفتي باندې تاوان لازم نه دی؛ ځکه مفتي متسبب دی، نه مباشر او قاعده هم داده، چې تاوان په مباشر وي، نه په متسبب، بل دا چې د فتوی په منلو کې هيڅ الزام نشته؛ ځکه مستفتي دا اختيار لري، چې د مفتي په فتوی باندې عمل کوي او کنه. که چېرې مفتي د فتوی ورکولو اهليت ولري، يواځې په اجتهاد کې خطا شوی وي، نو په نوموړي مفتي په طريقه اولی سره تاوان نشته، په ناپوهۍ او خطا سره فتوی ورکول د اخروي ګناه ترڅنګ د وخت د حاکم له لوري د تعزيري سزا مستحق هم ګرځي. د څېړنې تګلاره تحليلي او توصيفي ده، چې د کتابتوني ميتود پر اساس تر سره شوې ده، تر څو په اسلامي فقه کې دا ښکاره شي، چې غلطه فتوی ورکول شرعي مسؤليت لري.

**کليدي کلمې:**
اسلامي فقه، فتوی، قضا، متسبب، مباشر، مفتي، مستفتي.

**الملخص**

ينص الفقه الإسلامي بأن الفتوى يأتي جواباً لسؤالٍ، عندما يصدر المفتي فتوى على مذهب معين يكون لديه العلم بالضرورة حول قواعد الفقه الإسلامي و المنهج المتبع لذلك المذهب، و الغرض من هذا البحث هو بيان حكم الأضرار المالية الناجمة عن فتوى المفتي خطأً في الفقه الإسلامي

و النتيجة التي تؤخذ من بحثنا هي: عندما يخطئ المفتي في إصدار فتواه وكان هذا الخطأ بسبب قلة العلم أو الإهمال ويعمل المستفتي أيضاً بفتوى المفتي ويتسبب هذا الفعل في خسارة مالية فلا يجب على المفتي أي تعويض؛ لأن المفتي هو المتسبب وليس مباشر والقاعدة أيضاً تنص على أن الخسارة على المباشر وليس على المتسبب، والشئ الآخر هو أنه لا وجوب في قبول الفتوى؛ لأن المستفتي له الخيار في العمل بفتوى المفتي أو عدمه. وإذا لم يعمل المستفتي بفتوى المفتي، يمنع المستفتي من العمل أما اذا كان للمفتي أهلية الإفتاء، فقط هناك خطأ في الاجتهاد ولذلك فلا ضمان على هذا المفتي بأي حال من الأحوال وفي الفقه الإسلامي فإن الإفتاء بالجهل والخطأ مسؤولية ثقيلة وبالإضافة إلى الضرر والإثم الأخروي، و يستحق المفتي أيضاً عقوبة حاكم الزمان. هذا واقتضت طبيعة البحث أن يكون تحليلياً  وصفياً وقد تم إعداده على أساس المنهج الببليوغرافي  بحيث أنه من الواضح والظاهر في الفقه الإسلامي أن الإفتاء بالخطاء يترتب عليه مسؤلية شرعية.

.

**الكلمات المفتاحية:**
الفقه الإسلامي، الفتوى، قضاء، متسبب، مباشر، مفتي، مستفتي.

## Abstract

The fatwa is a response to a question in Islamic jurisprudence. When issued, the mufti will possess information as needed about the rules of Islamic jurisprudence and will understand the methodology of the school of thought. The purpose of this research is to elucidate the ruling on financial damages resulting from an incorrect fatwa in Islamic jurisprudence. This conclusion arises from our investigation when the mufti errs in issuing their fatwa, whether due to lack of knowledge or negligence, and the seeker of the fatwa also acts upon it, resulting in financial loss. In such a case, the mufti is not obligated to provide compensation because the mufti is the indirect cause, not the direct one. Additionally, the principle dictates that the loss falls on the one directly responsible, not the indirect cause. Furthermore, there is no obligation to accept the fatwa; the seeker has the choice to act upon it or not. If the seeker does not act upon the fatwa, they are prohibited from acting upon it. If the mufti is qualified to issue fatwas, then the error lies in interpretation, and therefore, the mufti is not guaranteed immunity under any circumstances. In Islamic jurisprudence, issuing a fatwa out of ignorance and error carries significant legal responsibility. In addition to the harm and subsequent sin, the mufti also deserves the punishment of the ruler of the time. This research is analytical and descriptive, based on a bibliographic approach. It is evident in Islamic jurisprudence that issuing an erroneous fatwa entails legal responsibility.

**Keywords:**
Islamic jurisprudence, Fatwa, Qada(Decree), Culprit, Mufti.

دیوان


## Özet

Bir müftü fetva verdiği zaman İslam fıkıhına yeterli bilgiye sahib olmalıdır. Hangi mezhebe göre fetva verecekse o mezhebin fıkhi hükümlerini iyi bilmelidir. İslam Fıkıhında fetva verme bir sorunun cevabıdır. Bu çalışmanın amacı, İslam fıkıhında müftünün hatalı fetva vermesinin yol açtığı malî zararlara ilişkin hükmü açıklamaktır. Bu araştırmada, analitik ve kütüphane araştırma yöntemi kullanılmıştır. Çalışma, İslam Fıkhında yanlışlıkla fetva vermenin şeri bir sorumluluğu olduğunu açıkça belirtmektedir. Araştırmanın sonunda, bir müftünün bilgisizliği veya dikkatsizliğinden fetva verirken hata yapmasıyla ve müftünün fetvasına göre hareket edilmesiyle maddî zarara giren kişi için müftüye herhangi bir tazminat davası açılmaması sonucuna varılmıştır. Çünkü müftü fail değil, sebeptir. Kanun da cezanın sebebi değil, fail üzerinde olduğunu belirtir. Diğer bir husus ise, fetvanın kabul edilmesine gerek yoktur, çünkü faydalananın müftünün fetvasına uyma veya uymamaya hakkı vardır. Eğer müftünün fetva verme yetkisi varsa, sadece içtihadda hata yapıyorsa, ilk defasında müftüye zarar vermek gerekmeyecektir. İslam fıkıhında cehalet ve hatayla fetva vermek ağır bir sorumluluktur. Müftüyü yaptığı hata ve günahlarından dolayı dönemin hükümdarı cezalandırabilir.

.



**Anahtar Kelimeler:**
İslam Fıkıhı, Fetva, Yargı, Müftü, Sebepkâr.

**سریزه**

الحمد لله خالق الخلق و القاضي بالحق و المثيب على الصدق و رب كل شيء و فاصل الأمور، العالم بما يكون محصّل ما في الصدور، لا شيء مثله العلي العظيم.

فتوی په اسلامي شريعت کې ډېر لوی مسؤليت لري، مفتي په زڅمکه کې د الله تعالی حکم خلکو ته بيانوي، که مفتي پرته له تحقيق او څېړنې څخه خلکو ته فتوی ورکوي، أخروي مسؤليت ورته راجع کېږي؛ څکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: {عَن أَبِي هُرَيْرَةَ عَن النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أُفْتِيَ بِفُتْيَا مِنْ غَيْرِ ثَبْتٍ فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلَى مَنْ أَفْتَاهُ}.[٢] ژباړه: أبوهريره رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه نقل کوي: چاته چې له موثق دليل پرته فتوی ورکړل شي، بېشکه چې د دغې فتوی ورکولو گناه او بار په هغه چا دی، چې ده ته يې فتوی ورکړې ده.

د استدلال وجه: په حديث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مالي تاوان خبره نه ده کړې، يواځې يې د أخروي مسؤليت يادونه کړې ده، که چېرې په مفتي مالي تاوان لازم وای، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به يې يادونه کړې وای.

اسلامي شريعت د فتوی ټول اصول بيان کړي دي او دا منصب يا مقام يې د خاصو خلکو په ذمه باندې ورکړی دی، چې هغه علماء او د دې فن ماهرين دي، مفتي بايد په پوښتل شوې مسئله کې له پوره تدبر او فکر وهلو وروسته مستفتي ته فتوی ورکړي؛ څکه نن ورځ هر شخص دا کوښښ کوي، چې ځان د إفتا د منصب لپاره غوره کړي، نو د دې ضرورت پيدا کيږي، چې په دې برخه کې يوه ليکنه وشي. زمونږ په ټولنه کې د ديني، علمي او مسلکي پوهې د کمزورتيا له وجهې هر عالم، که څه هم په دې فن کې تخصص ونه لري، دا جرأت کوي چې مستفتي ته فتوی ورکړي، په پايله کې کله نا کله  په غلطه فتوی ورکولو باندې مستفتي ته مالي زيان رسيږي. زمونږ هدف له دې څېړنې څخه دا دی: چې په ناسمه فتوی ورکولو سره مفتي ته کوم مسئوليتونه راجع کيږي، هغه واضح کړو.

اوس بايد دا روښانه شي، چې د سمې او ناسمې فتوی تر منځ توپير څه دی؟ د ناسمې فتوی ورکولو له امله که مالي تاوان رامنځته شي حکم يې څه دی؟

زمونږ دغه تحقيق په ناسمه توگه فتوی ورکولو باندې د مالي تاوان حکم څرگندوي، د حنفي علماوو څخه ابن نجيم رحمه الله په دې آند دی، چې په مفتي باندې تاوان نشته،[٣] ياده شوې خبره إبن عابدين رحمه الله هم ذکر کړې ده؛ څکه په فتوی کې الزام او اجبار نشته،[٤] د دوی دليل دا دی: چې مفتي متسبب دی، مباشره نه دی، قاعده هم داده،  که متسبب او مباشر په يو عمل کې سره يوځای شي، نسبت د فعل مباشره ته کېږي، نه متسبب ته.[٥]

د حنبلي علماوو څخه إبن القيم رحمه الله مفتي په طبيب جاهل باندې قياس کړی دی، څنگه چې په طبيب جاهل تاوان شته، همداسې په مفتي  جاهل باندې هم تاوان شته،[٦] نوموړی د رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې حديث باندې استدلال کوي: {وَهُوَ قَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ تَطَبَّبَ وَلَمْ يُعْلَمْ مِنْهُ طِبٌّ فَهُوَ ضَامِنٌ}.[٧] همدا ډول فتوی په اسلامي شريعت کې ډېري پخوانی

---

[٢]. عبدالله بن عبدالرحمن أبو محمد الدارمي، *سنن الدارمي*، تحقيق.  فواز أحمد زمرلي و خالد السبع العلمي (بيروت: دار الكتب العربية، ١۴٠٧ هق)، "علم"، ۵ (١٦١).

[٣]. زين الدين إبن نجيم الحنفي، *البحر الرائق شرح كنز الدقائق* (بيروت: دار المعرفه، بی‌تا)، ٢٩٢/٦.

[٤]. محمد امين الشهير بإبن عابدين، *ردالمحتار على الدر المختار*. تحقيق. عبدالمجيد طعمه حلبي (افغانستان: کندهار، ارگ بازار، ٢٠٠٠ م)، ١٢٧/٨.

[٥]. لجنة مكونة من عدة علماء وفقهاء في الخلافة العثمانية، *مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ* (پاکستان: کراتشي، نور محمد، کارخانه تجارتِ کتب، بی‌تا)، ٢٧.

[٥]. محمد بن أبي بكر أيوب الزرعي أبو عبدالله، *إعلام الموقعين عن رب العالمين* (بيروت: دار الجيل، ١٩٧٣ م)، ۴/ ٢٢٦- ٢٦٦.

[٧]. أبو داود سليمان بن الأشعث السجستاني، *سنن أبي داود* (بيروت: دار الكتاب العربي، بی‌تا)، "باب فيمن تطبب ولايعلم منه طب"، ٢۵(۴۵٨٨)؛

ريښې لري، هر نبي چې دې دنيا ته راغلی دی، الله تعالی هغه ته د فتوی منصب ورکړی، تر څو په اسماني کتاب د خلکو خپل منځي ستونزې حل کړي.

رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپله هم مفتي او قاضي ؤ او د دې تر څنګ د عامه ولايت چارې يې هم سرته رسولې، له هغه وروسته صحابه کرامو رضي الله عنهم د فتوی چارې سمبالولې، چې تر ټولو مخکښ مفتيان په اصحابو کرامو کې: عمر فاروق رضي الله تعالی عنه، علي کرم الله وجه، عبدالله ابن مسعود او ابن عباس رضي الله عنهم وو، له هغوی څخه وروسته د تابعينو او تبع تابعينو څخه نيولې تر اوسني زماني پورې د فتوی چارې جاري دي،[8] ياد مسؤليت اوس د علماوو په غاړه دی. دا څېړنه يو کتابتوني څېړنه ده، چې له معتبرو علمي کتابونو څخه په اسلامي فقه کې په ناسمه فتوی ورکولو باندې د مالي تاوان حکم د اقتباس پر طريقه باندې را اخيستې دی او په ساده روانه پښتو ژبه سره مو ترتيب کړی دی، په ناسمه فتوی ورکولو باندې د مالي تاوان حکم مو د علماوو د اقوالو په رڼا کې ذکر کړی دی، چې هر قول مو خپل ويونکي ته منسوب کړی دی او بحث پرپای مو نتيجه هم ذکر کړې ده.

**الف: د فتوی پېژندنه**

دلته د فتوی د لغوي او اصطلاحي پېژندنې څخه بحث کېږي.

**۱. د فتوی لغوي پېژندنه**

فتوی او فُتيا د فا په فتحه او ضمه دواړو سره لوستل کېږي، خو په فتحه د فا سره ويل صحيح او غوره قول دی، فتوی په لغت کې مطلق د سوال جواب ته ويل کېږي، چې هغه تر شرعي احکامو پورې تعلق ولري او کنه.[9]

لکه څنګه چې الله تعالی د يوسف عليه السلام په واقعه کې فرمايي: ﴿وَقَالَ الْمَلِكُ إِنِّي أَرَى سَبْعَ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعَ سُنْبُلَاتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَفْتُونِي فِي رُؤْيَايَ إِنْ كُنْتُمْ لِلرُّؤْيَا تَعْبُرُونَ﴾.[10] ژباړه: او وويل پاچا بېشکه ما وليدل په خوب کې اووه غواوې څربې چې خوري دا څربې اوو (نورو) خوارو غواګانو او (بيامي وليدل) اووه اوږې شنه او نور اووه مې وليدل وچ؛ اې ډلې د درباريانو فتوی (تعبير) را کړئ تاسې ټول ماته په دې خوب زما کې که يئ تاسې چې د خوب تعبير کولی شي.[11]

**۲. د فتوی اصطلاحي تعريف**

فتوی په اصطلاح کې د يو د يني مسئلې د سوال جواب ته ويل کېږي، هغه عام دی، چې تر شرعي، اعتقادي او نورو مسائلو پورې تعلق لري.[12]

**۲. دځينو اصطلاحاتو تعريفونه**

دلته د فتوی اړوند د ځينو اصطلاحاتو تعريفونه ذکر کوو:

المفتي : « الفقيه الذي يظهر الأحكام الفقهية ».[13]

ژباړه: مفتي هغه فقيه ته ويل کېږي، چې فقهي حکمونه ښکاره کوي.

مستفتي: هغه چاته ويل کېږي، چې د مفتي نه د فتوی اخيستلو غوښتنه کوي.

---

[8]. عبدالرحمن بن محمد الدخيل، *الفتوی أهميتها ـ ضوابطها ـ آثارها* (بی جا، ۲۰۰۷ م)، ۷۶.

[9]. محمد بن مکرم بن منظور الأفريقي المصري، *لسان العرب* (بيروت: دار صادر، بی تا)، ۱۵/۱.

[10]. يوسف ۴۳/۱۲.

[11]. *ترجمۀ قرآن کريم*، مترجم. محمود حسن ديو بندي، *کابلي تفسير* (پاکستان: کويته مذهبي کتب خانه، ۱۳۲۳ ق)؛ *يوسف* ۴۳/۱۲.

[12]. محمد تقي عثماني، *اصول الافتاء وادابه* (پاکستان: کراچي امام محمد الغزالي، ۱۳۹۷ ق). ۱۰.

[13]. محمد رواس قلعجي و حامد صادق قنيبي، *معجم لغة الفقهاء* ( بيروت: دار النفاس، ۱۴۴۵ ق)، ۳۳۶.

مفتي ماجن: هغه کس ته ویل کېږي، چې خلکو ته باطلې حیلې ورښايي، داسي حيلې چې د هغو څخه ضرر را پيداکېږي، لکه يوې ښځې ته چې ووايي مرتده شه تر څو له خپل خاوند څخه طلاقه شې او يا پرته له علمه خلکو ته فتوی ورکوي.[14]

الإِسْتِفْتَاء: «طلب الفتوى».[15]

د فتوی غوښتنې ته استفتاء ويل کېږي.

**ب: د فتوی اقسام**

په عموم کې فتوی په دريو اقسامو ويشل کېږي، چې هغه اقسام په لاندې ډول دي:

**۱. تشريعي فتوی**

تشريعي فتوی هغه فتوی ته ويل کېږي، چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د وحي متلو (قرآن) په واسطه سره چې قرآن کريم دی، يا د وحي غير متلو (سنت) په واسطه سره، چې سنة الرسول صلى الله عليه وسلم دي، د سائل (سوال کوونکي) د سوال په جواب کې واقع شوې وي يا په بيان د يوې واقعې کې صادره شوې وي، چې هغه واقعه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې رامنځته شوې وي او وروسته د شريعت عام حکم ګرځېدلی وي.[16] ﴿يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ﴾.[17] ژباړه: « طلب د فتوی کوي، دوی له تانه (اې محمده! د کلالې! نو ووايه چې الله تعالی فتوی درکوي تاسې ته (ميراث) د کلالې کې » .[18]

**الكلالة**: « مَنْ لا وَلَدَ له ولا والدَ».[19] يعني کلاله هغه چا ته ويل کېږي، چې د هغه نه اولاد وي او نه يې پلار وي.

د هغه شرعي فتوی مثال چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه صادره شوې وي، لکه دا حديث: [عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ امْرَأَةً مِنْ جُهَيْنَةَ [20] جَاءَتْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ إِنَّ أُمِّي نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ فَلَمْ تَحُجَّ حَتَّى مَاتَتْ أَفَأَحُجُّ عَنْهَا؟ قَالَ نَعَمْ حُجِّي عَنْهَا].[21] ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی، چې د جهينه قبيلې يوه ښځه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغله او ورته ويې ويل: زما مور حج پر ځان باندې نذر کړی وو، خو هغه د حج نه مخکې وفات شوه، آيا زه د هغې پرځای باندې حج ادا کړم؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: هو د هغې پرځای حج ادا کړه.

وجه د استدلال: دلته پوښتنه کوونکې د جهينه قبيلې ښځه ده، مفتي خپله رسول الله صلى الله عليه وسلم دی، چې د نوموړې ښځې سوال ته جواب ورکوي، دغه فتوی له رسول الله صلى عليه وسلم څخه د سوال په جواب کې صادره شوې ده.

نو هر هغه فتوی چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه صادره شوې وي، هغه تشريعي فتوی بلل کېږي، ځکه رسول الله صلى الله عليه و سلم د الله استازی او شارع دی.

دغه ډول فتوی د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وفات کېدو او پر رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې د وحي په پای ته رسېدلو سره پای ته ورسېده.

---

[14]. علي حيدر، *دررالحكام شرح مجلة الأحكام* (بيروت: دار الكتب العلمية ، بی‌تا)، ۶۰۳/۲.

[15]. قلعجي، معجم *لغة الفقهاء*، ۴۵.

[16]. عثماني، *اصول الافتاء وأدابه*، ۱۱.

[17]. النساء ۱۷۶/۴.

[18]. النساء۱۷۶/۴.

[19]. سراج الدين بن عبدالرشيد السجاوندي الحنفي، *السراجي في الميراث* ( پاكستان: كراچي مكتبة البشرى، بی‌تا )، ۱۷.

[20]. أبو الحسن علي بن أبي الكرم محمد بن محمد الشيباني الجزري، *اللباب في تهذيب الأنساب* (بيروت: دار صادر، ۱۹۸۰ م)، ۳۱۸/۱.

[21]. محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، *الجامع الصحيح المختصر* ( بيروت: دار إبن كثير اليمامة، ۱۴۰۷ ق/ ۱۹۸۷ م، " جزاء الصيد"، ۲۲ (۱۸۵۲).

**۲. فقهي فتوی**

فقهي فتوی هغه فتوی ته ويل کيږي، چې له فقهاوو څخه يو فقيه ته دغه ملکه(مهارت) حاصله وي او يا يو فقيه د فقهاوو د استنباط په وخت کې تفريع د فروعاتو وکړي، يا د عام سوال په جواب کې فتوی صادره کړي.[۲۲]

**۳. جزئي فتوی**

د جزيي فتوی تعريف په لاندې ډول دی:

«الجواب عن السؤال في واقعة معيِّنة بتنزيل الفقه الكليِّ على الموضوع الجزئيِّ».[۲۳]

په يو معلومه واقعه کې د سوال جواب ته ويل کېږي، چې د کُلي فقهي تطبيق پر جزيي موضوع باندي وکړای شي.

يعني: جزئيه فتوی هغه فتوی ته ويل کېږي، چې له يو فقيه څخه د يو معلومې واقعې يا جزئې په هکله پوښتنه وشي، نو دغه فقيه کُلي حکم( قاعده) د فقهې په يوې معلومې جزئې باندې تطبيق کوي، لکه چې يو شخص وفات شي، يو زوی، لور، مېرمن او مور او نور وارثان يې پاته شي، نو سوال کوونکی د ترکې د تقسيم په هکله له مفتي څخه پوښتنه وکړي او مفتي(فقيه) د فقهاوو عامه قاعده ورته بيان کړي، په داسي طريقه سره چې د مېرمنې لپاره د اولاد درلودلو په صورت کې اتمه برخه د مال ده او د لور لپاره د زوی درلودلو په صورت کې په درېيمه برخه ده او پاته دوې برخې د زوی دي. په همدې طريقه سره يوه قاعده ورته بيان کړي، په اکثرو وختونو کې د فتوی د لفظ اطلاق پر فتوی جزئي باندې کيږي.

**ج: د سمې او ناسمې فتوی ترمنځ توپير**

مخکې له دې چې په اسلامي فقه کې  په ناسمه فتوی ورکولو باندې د مالي تاوان حکم څرګند شي، لومړی بايد د سمې او ناسمې فتوی ترمنځ توپير بيان شي.

سمه فتوی هغه فتوی ته ويل کيږي، چې لاندې ضوابط په کې مراعات شوي وي:[۲٤]

**۱.** د فتوی استناد بايد په شرعي دليل باندې وي

شرعي فتوی بايد د الله تعالی په کتاب، د رسول الله صلی الله عليه وسلم په سنتو، اجماع او شرعي قياس باندې مشتمله وي، ښه فتوی هغه ده چې دليل يې ښکاره وي؛ ځکه ښايست د فتوی په دليل باندې دی.

**۲.** فتوی بايد د مستفتي تر موضوع پوري تعلق ولري.

په کومه فتوی کې چې د مستفتي موضوع حل شوې وي، په هغه فتوی سره د مستفتي غوښتنه پوره کېږي، که مفتي د مستفتي د غوښتنې خلاف فتوی ورکړي، دغه ته ناسمه فتوی ويل کېږي.

**۳.** فتوی بايد د غموض او پېچوالي څخه خالي وي

فتوی بايد واضحه او ښکاره وي، مستفتي ته بايد په ليکلي شکل او ښه وينا سره وويل شي، چې په دې مسئله کې شرعي نص دغه دی.

**٤.** فتوی بايد د حال، زمان او مکان مطابق ورکړل شي

مفتي بايد مستفتي ته د هغه د حال مطابق فتوی ورکړي؛ ځکه په ځينو وختونو کې د فتوی حکم په عرف باندې بنا وي، د زمان او مکان په تغير سره د فتوی حکم تغير کوي.

**۵.** په هغه مسائلو کې چې تفصيل په کار وي، بايد مفتي له اجمال څخه ځان وساتي

[۲۲]. عثماني، *اصول الافتاء وأدابه*، ۱۲.

[۲۳]. عثماني، *اصول الافتاء وادابه*، ۱۳.

[۲٤]. محمد فؤاد البرازي، "مسؤولية الفتوى الشرعيةضوابطها وأثرها في رشاد الأمة"، *مجلة البيان* ۱۷۸/۱( جمادي الآخرة ۱۴۲۳م)، ٦.

کله چې په یو مسئله کې تفصیل په کار وي، مفتي باید مستفتي ته مطلق جواب ورنه کړي، بلکې په تفصیل سره د سوال مطابق جواب ورکړي.

**٦.** مفتي او مستفتي باید د هوی او خواهش څخه خالي وي

تر ټولو مهمه خبره داده، چې فتوی باید د هوی څخه خالي وي، هغه که د مفتي له اړخه وي او که د مستفتي.

**٧.** مفتي باید د فتوی ورکولو أهلیت ولري

مفتي به مکلف، مسلمان، ثقه، أمین ، د فسق د اسبابو او هغه څه چې میرانه له منځه وړي پاک وي.[٢٥]

کله چې په فتوی کې ذکر شوي ضوابط او شروط پوره شي، نو هغه سمه او شرعي فتوی ده، په مستفتي باندې لازمه ده، چې په هغه فتوی باندې عمل وکړي او د خپل نفس او خواهش مطابق یې رد نه کړي او که پورتني ضوابط او شروط په کښې پوره شوي نه وي، غیر شرعي فتوی ده، عمل ور باندې لازم نه دی.

**د: په اسلامي فقه کې په غلطه(ناسمه) فتوی ورکولو باندې د مالي تاوان حکم**

کله چې مفتي په فتوی ورکولو کې خطا شي او یا سهوه ځیني وشي، نو کتل کیږي چې مفتي د فتوی ورکولو اهل دی او که نه؟ دلته دوه صورتونه دي:

**١.** کله چې مفتي مجتهد وي او په فتوی ورکولو کې سهوه شي او دغه سهوه یې د قاطع نص خلاف نه وي، په نوموړي مفتي باندې د مذاهبو په اتفاق مالي تاوان نه شته بلکې د ثواب مستحق هم دی. دلیل: عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه و سلم- قَالَ {إِذَا حَكَمَ الْحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ. وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَخْطَأَ فَلَهُ أَجْرٌ }.[٢٦] ژباړه: د عمرو بن العاص نه روایت دی، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلې دي، هغه ویل: کله چې حاکم د یو حکم(فیصلې) اراده وکړي، بیا له کوښښ کولو وروسته حق ته ورسیږي، د ده لپاره دوه ثوابه دي او کله چې د یو حکم اراده وکړي، خو له کوښښ کولو وروسته خطا شي، د ده لپاره یو ثواب دی. د استدلال وجه: که څه هم په حدیث کې لفظ د حاکم ذکر دی، خو هر هغه کس ته شاملیږي، چې د شرعي مسئلې په پیدا کولو کې د خپل توان مطابق کوښښ کوي

**٢.** کله چې مفتي مجتهد وي، د قاطع نص خلاف فتوی ورکړي او یا مقلد وي، د فتوی ورکولو أهلیت ونه لري، پرته له تحقیق څخه خلکو ته فتوی ورکوي، دغه صورت مختلف فیه دی: حنفي علماء د مالکي علماوو څخه ابن رشد[٢٧] او المواق[٢٨]، د شافعي علماوو

[٢٥]. عثمان بن عبد الرحمن بن عثمان الشهرزوي أبو عمرو، *أدب المفتي والمستفتي*، تحقیق. موفق عبدالله عبد القادر(بیروت: مکتبة العلوم والحکم ، عالم الکتب، ١٤٠٧)، ٢١/١.

[٢٦]. بخاري، "اعتصام بالکتاب وسنة "، ٢١ (٧٣٥٢).

[٢٧]. اصلي نوم یې محمد بن أحمد بن محمد بن رشد الاندلسي او لقب یې إبن رشد الحفید دی، په (٥٢٠ ق) کال کې پیدا شوي او په (٥٩٥ ه) کال کې وفات شوی دی، د مالکي مذهب له فقهاوو څخه دی، د قرطبې أوسیدونکی دی، په فقه کې یې تر ټولو مشهور کتاب: *بدایة المجتهد ونهایة المقتصد* دی. خیر الدین بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الزرکلي الدمشقي،*الأعلام*( بی جا: دار العلم للملایین، ٢٠٠٢ م، چ٥)، ٣١٨/٥.

[٢٨]. اصلي نوم یې محمد بن یوسف بن أبي القاسم بن یوسف العبدري الغرناطي، أبو عبدالله المواق دی، د پیدایښت نېټه یې معلومه نه ده، په ( ٨٩٧ هق) کال کې وفات شوی دی، د مالکي مذهب له فقهاوو څخه دی، د غرناطې امام او عالم و . الزرکلي،*الأعلام* ، ١٥٤/٧.

څخه فقيه زكريا الأنصاري[۲۹] او محمد مصطفی الزحيلي[۳۰] فرمايي، چې په مفتي هيڅ ډول ضمان نشته.[۳۱]

د مالكي علماوو څخه امام دسوقي[۳۲] رحمه الله فرمايي: كه مفتي مجتهد وي مالي تاوان باندې نه شته او كه مقلد وي تاوان باندې شته[۳۳] او د شافعي فقهاوو څخه أبو اسحق الإسفرائيني[۳۴] وايې كه أهل وي تاوان شته او أهل نه وي تاوان باندې نه شته.

د حنبلي مذهب فقهاء په دې آند دي چې په نوموړي مفتي باندې تاوان شته.[۳۵]

### هـ. د مالي تاوان حكم د دلائل

#### ۱. د احنافو له نظره

د احنافو څخه ابن نجيم[۳۶] رحمه الله د ناسمې فتوی وركولو په هكله فرمايي: أَفْتَاهُ ثُمَّ رَجَعَ قبل الْعَمَلِ كَفَّ عنه وَكَذَا إذَا نَكَحَ امْرَأَةً بِفَتْوَاهُ ثُمَّ رَجَعَ لَزِمَهُ فِرَاقُهَا كما في الْقِبْلَةِ وَإِنْ رَجَعَ بَعْدَ الْعَمَلِ وفد خَالَفَ دَلِيلاً قَاطِعًا نَقَضَهُ وَإِلاَّ فَلاَ وَإِنْ كان الْمُفْتِي يُقَلِّدُ الْإِمَامَ فَنَصُّ إمَامِهِ إن كان اجْتِهَادِيًّا في حَقِّهِ كَالدَّلِيلِ الْقَطْعِيِّ وَعَلَى الْمُفْتِي إعْلَامُهُ بِرُجُوعِهِ قبل الْعَمَلِ وَكَذَا بَعْدَهُ إنْ وَجَبَ النَّقْضُ وَإِنْ أَتْلَفَ بِفَتْوَاهُ لَا يَغْرَمُ وَلَوْ كان أَهْلاً.[۳۷] ژباړه: إبن نجيم الحنفي رحمه الله فرمايي: كه مفتي فتوی وركړي او بيا وروسته له خپلې فتوی څخه وګرځي په داسې حال كې چې مستفتي به په فتوی باندې عمل نه وي كړی، نو مستفتي په فتوی باندې د عمل كولو څخه منعه كيږي، همدا ډول كه يې د مفتي د فتوی په اساس نكاح تر سره كړې وه او مفتي له خپلې فتوی څخه رجوع وكړه، نو د ښځې او خاوند تر منځ فراق يا جلا والي لازمي دی، لكه څنګه چې د قبلې په خط سير كېدلو كې هم دا مسئله ده ( يعني يو كس په لمانځه باندې د خپل تحری او فكر وهلو مطابق يو جهت ته ولاړ وي كله چې يې تحری او غالب ګومان بل طرف ته شو، نو همغه طرف ته دې وګرځي چې غالب ګومان يې دی هغه لومړنی جهت دې پرېږدي ) او كه مفتي له فتوی څخه په داسې حالت كې رجوع وكړه، چې په هغه حالت كې مستفتي په فتوی باندې عمل كړی و، نو كه چېرې د مفتي فتوی د قاطع نص سره مخالفه وه، بيا دې هم فتوی ماته كړي او كه د قاطع نص سره مخالفه نه وي ( فتوی په اجتهادی امورو كې وي ) نو فتوی دې نه ماتوي. كه چېرې مفتي د يو امام مقلد و، نو د

---

[۲۹]. اصلي نوم يې زكريا بن محمد بن أحمد بن زكريا الانصاري السنيكي المصري الشافعي، أبو يحيی: شيخ الاسلام دی، په ( ۸۲۳هـق) كال كې پيدا او په (۹۲۶ هـق) وفات شوی دی، د شافعي فقهاوو څخه دی، قاضي مفسر او د حديثو حافظ و، د مشهورو تصنيفونه څخه يې: أسنى المطالب في شرح روض الطالب او منهج الطلاب دی. الزركلي، *الأعلام*، ۴۶/۳.

[۳۰]. اصلي نوم يې محمد مصطفی الزحيلي دی، په (۱۹۴۱/۸/۱۰ م) كال كې د دمشق په دير عطيه كلي كې پيدا شوی دی، د الأزهر پوهنتون څخه يې په(۱۹۷۱ م) كال كې د فقه المقارن په رشته كې دكتورا اخيستې ده، تر ټولو مشهور كتاب يې ( القواعد الفقهية وتطبيقاتها في المذاهب الأربعة) دی.

[۳۱]. إبن عابدين، *ردالمحتار على الدر المختار*، ۱۲۷/۸، خليل محمد بن يوسف بن أبي القاسم العبدري أبو عبدالله، *التاج والإكليل لمختصر* ( بيروت: دار الفكر، ۱۳۹۸)، ۲۰۰/۵؛ زكريا الأنصاري، *أسنى المطالب في شرح روض الطالب*، تحقيق. محمد محمد تامر (بيروت: دار الكتب العلمية، ۱۴۲۲ هـق)، ۲۸۶/۴؛ محمد مصطفى الزحيلي، *القواعدالفقهية و تطبيقاتها في المذاهب الأربعة* ( دمشق: دار الفكر، ۱۴۲۷ هـق/۲۰۰۶ م)، ۴۸۳/۱.

[۳۲]. اصلي نوم يې محمد بن أحمد بن عرفة الدسوقي المالكي دی، د پيدايښت نېټه يې معلومه نه ده، خو په ( ۱۲۳۰ هـش) كال كې وفات شوی دی، د مصر د أهل دسوق سيمې څخه دی، دعلم زده كړه يې د مصر په قاهره ښار كې كړې ده، هم هلته وفات شوی دی، ډير تصنيفات لري، چې د هغوی له جملې څخه يې ( حاشية على الشرح الكبير على مختصرخليل – ط ) دی. الزركلي، *الأعلام*، ۱۷/۶.

[۳۳]. محمد عرفه الدسوقي، *حاشيةالدسوقي على الشرح الكبير* (بيروت: دار الفكر، بی‌تا)، ۲/۱؛ أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي، *المجموع شرح المهذب* (بی جا: بی‌تا)، ۴۶/۱.

[۳۴]. اصلي نوم يې إبراهيم بن محمد بن إبراهيم بن مهران، أبو إسحاق د شافعي فقهاوو څخه دی، د پيدايښت نېټه يې معلومه نه ده، په (۴۱۸ هـق ) كال كې وفات شوی دی، نوموړی د فقهي او اصول فقه عالم او د ركن الدين په لقب باندې مشهور و، د أسفرايين په منطقه كې لوی شوی دی، چې د ( نيسابور وجرجان) ترمنځ سيمه ده، مشهور كتاب يې: (الجامع) في أصول الدين، چې پنځه جلده دی، په نيساپور كې وفات شوی دی. الزركلي، *الأعلام*، ۶۱/۱.

[۳۵]منصور إبن يونس إبن ادريس البهوتي، *كشاف القناع عن متن الإقناع* (بيروت: دار الفكر، ۱۴۰۲ هـق)۳۶۰/۶.

[۳۶]. اصلي نوم يې زين الدين بن إبراهيم بن محمد، چې مشهور په إبن نجيم دی، د پيدايښت دقيقه نيټه يې معلومه نه ده، په (۹۷۰ هـق ) كال كې وفات شوی، حنفي عالم او فقيه دی، تر ټولو مشهور كتاب يې په فقه كې ((البحر الرائق في شرح كنز الدقائق - ط ) دی. الزركلي، *الأعلام*، ۶۴/۳.

[۳۷]. إبن نجيم الحنفي، *البحر الرائق شرح كنز الدقائق*، ۲۹۲/۶.

مقلد لپاره د خپل امام قول په اجتهادي امورو کې داسي دی لکه قاطع دليل. په مفتي باندې لازمه ده، چې د خپل رجوع نه مستفتي د عمل کولو مخکې او وروسته منعه کړي ( په هغه صورت کې چې د فتوى نقض واجب وي).

که چېري مفتي په خپل فتوى باندې مالي تاوان ورسوي او د مفتي د فتوى په سبب سره مستفتي يو شئ تلف کړي، که څه هم مفتي د فتوى اهل وي، تاوان ور باندې لازم نه دی.

همدا ډول د مفتي د عدم ضمان په هکله د احنافو څخه إبن عابدين[38] رحمه الله ليکي: مفتي متسبب دی، گناه وربانديې شته، مگر تاوان وربانديې نشته، دی ليکي « وَبَعْضُ أَذْكِيَاءِ خُوَارِزْمَ [39] قَاسَ الْمُفْتِيَ عَلَى الْقَاضِي فَأَوْرَدْتُ أَنَّ الْقَاضِيَ صَاحِبُ مُبَاشِرٌ لِلْحُكْمِ فَكَيْفَ يُؤَاخَذُ السَّبَبُ مَعَ الْمُبَاشِرِ فَانْقَطَعَ ، وَكَانَ لَهُ أَنْ يَقُولَ إنَّ الْقَاضِيَ فِي زَمَانِنَا مُلْجَأٌ إلَى الْحُكْمِ بَعْدَ الْفَتْوَى ؛ لِأَنَّهُ لَوْ تَرَكَ يُلَامُ ؛ لِأَنَّهُ غَيْرُ عَالِمٍ حَتَّى يَقْضِيَ بِعِلْمِهِ بَزَّازِيَّةٌ قُبَيْلَ الشَّهَادَاتِ قُلْت : وَفِيهِ نَظَرٌ فَإِنَّ هَذَا لَا يُسَمَّى إلْجَاءً حَقِيقَةً وَإِلَّا لَزِمَ أَنْ تَنْقَطِعَ النِّسْبَةُ عَنْ الْمُبَاشِرِ إلَى الْمُتَسَبِّبِ كَمَا لَوْ أَكْرَهَ رَجُلٌ آخَرَ بِإِتْلَافِ عُضْوٍ عَلَى أَخْذِ مَالِ إنْسَانٍ فَإِنَّ الضَّمَانَ عَلَى الْمُكْرِهِ بِالْكَسْرِ لِصَيْرُورَةِ الْمُكْرَهِ بِالْفَتْحِ كَالْآلَةِ ، وَلَا شَكَّ أَنَّ مَا هُنَا لَيْسَ كَذَلِكَ فَلَمْ تَنْقَطِعْ النِّسْبَةُ عَنْ الْمُبَاشِرِ وَهُوَ الْقَاضِي ، وَإِنْ أَثِمَ الْمُتَسَبِّبُ وَهُوَ الْمُفْتِي ، .... لَكِنْ قَدْ يُقَالُ إنَّ هَذَا حُكْمُ الضَّمَانِ فِي الدُّنْيَا وَالْكَلَامُ فِي الْخُصُومَةِ فِي الْآخِرَةِ ، وَلَا شَكَّ فِي أَنَّ كُلًّا مِنْ الْمُبَاشِرِ وَالْمُتَسَبِّبِ ظَالِمٌ آثِمٌ وَلِلْمَظْلُومِ الْخُصُومَةُ مَعَهُمَا وَإِنْ اخْتَلَفَ ظُلْمُهُمَا فَإِنَّ الْمُبَاشَرَةَ ظُلْمُهُ أَشَدُّ كَمَنْ أَمْسَكَ رَجُلًا حَتَّى قَتَلَهُ آخَرُ».[40]

ژباړه: د خوارزم ځينو ذکي علماوو مفتي پر قاضي بانديې قياس کړی دی، بيا سوال وربانديې شوی دی، يعني اعتراض وارد شوی دی چې قاضي دلته مباشر دی او مفتي متسبب دی، نو څنگه مباشر د متسبب سره نيول کېږي، يعني نه نيول کيږي او ده لره دا شته چې ووايي زمونږ په زمانه کې له فتوى څخه وروسته قاضي حکم ته مجبور دی؛ ځکه چې که قاضي د مفتي له فتوى وروسته حکم پرېږدي، نو ملامتېږي، ځکه خپله عالم نه دی، تر څو په خپل علم قضاء وکړي، بزازيه د شهادت باب څخه لږ مخکې دغه خبره ذکر کړې ده.

زه، ابن عابدين رحمه الله بيا وايم چې په دې مسئله کې غور په کار دی، هغه دا چې دلته حقيقي مجبوريت نه دی رامنځته شوی، که واي بيا خو به د مباشر پر ځای متسبب ته د فعل نسبت شوی وای، لکه څنگه چې يو سړی بل مجبور کړي، د يو انسان د مال په اخيستلو بانديې، په دې گواښ که يې داسي ونه کړل يوه عضوه به يې لمنځه يوسي، دلته تاوان پر مکرِه (متسبب) بانديې دی او مکرَه دلته داسي گرځېدلی دی لکه آله، بې له شکه دلته دا مسئله داسې نه ده، هيڅکله د قاضي (مباشر) څخه د پرېکړي نسبت نه قطع کېږي، که څه هم مفتي ( متسبب ) په دې افتاء سره گناه کار دی، ( تر دې وروسته پر دې مناقشې ليکوال نيوکه کوي ) دلته د اکراه په صورت کې د تاوان د لازمېدو حکم دنيوي دی او ياد خصومت د قاضي او مدعي سره اخروي دی. بی له شکه چې د مباشر او متسبب دواړو سره دهغو د ظلم په سبب اخروي خصومت ( دعوه ) کېږي، که څه هم د دواړو د ظلم کچه توپير کوي؛ ځکه د مباشر ظلم نسبتاً ډېر دی، لکه څوک چې قاتل ته سړی ټينگ ونيسي او هغه يې مړ کړي.

[38]. اصلي نوم يې محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي، دی، په (۱۱۹۸هـ) کال کې پيدا او په (۱۲۵۲ هق) کال کې وفات شوی دی، د دمشق اوسيدونکی او په خپل وخت کې د حنفي مذهب امام و، په فقه کې تر ټولو مشهور کتاب يې: رد المحتار على الدر المختار، دی، چې پنځه جلده لري. الزرکلي، *الأعلام* ، ۴۲/۶.

[39]. خوارزم: دغه يو اسلامي منطقه ده، چې د بحر آرال (جيحون وسيحون چې اوسني نوم يې ترکستان دی) او بحر خوارزم په جنوب کې پرته سيمه ده، پايتخت يې جرجانيه وه، د وخت لوی علماوو په دې سيمه کې ژوند کړی دی. موقع الإسلام، *تعريف بالأعلام الواردة في البداية والنهاية لإبن كثير* (بی جا: بی‌تا)، ۴۸۶/۱.

[40]. إبن عابدين، *ردالمحتار على الدر المختار*، ۱۲۷/۸؛ إبراهيم بن أبي اليمن محمد الحنفي، *لسان الحكام في معرفة الأحكام* (مصر: القاهرة، البابي الحلبي، ۱۹۷۳ م)، ۲۲۶؛ نظام الدين وجماعة من علماء الهند، *الهندية مع الهامش الفتاوى البزايه* (پاکستان: کويته، مکتبه رشيديه، بی‌تا)، ۲۳۶/۵.

### ۲. د متسبب حکم د احنافو له نظره

امام حموي[41] رحمه الله متسبب تعریف داسي کړی دی:

« أن حد المتسبب هو الذي حصل التلف بفعله وتخلل بین فعله والتلف فعل مختار ».[42]

ژباړه: د متسبب تعریف: متسبب هغه کس ته دی، چې د یو شي تلف د ده په فعل سره شوی وي، خو د شخص د فعل او تلف ترمنځ بل اختیاري فعل موجود وي.

الْقَاعِدَةُ التَّاسِعَةَ عَشْرَةَ :« الْقَاعِدَةُ التَّاسِعَةَ عَشْرَةَ :إذَا اجْتَمَعَ الْمُبَاشِرُ وَالْمُتَسَبِّبُ أُضِيفَ الْحُكْمُ إلَى الْمُبَاشِرِ ».[43]

نولسمه قاعده: کله چې مباشر او متسبب سره یو ځای شي نسبت د حکم مباشر ته کېږي نه متسبب ته.

ابن نجیم رحمه الله د دې قاعدې په شرحه کې لاندې مثال ذکر کوي:

په هغه کس باندې تاوان نشته، چې سارق(غل) ته د یو انسان مال د غلا لپاره ور وښایې، بلکې تاوان په سارق(غل) باندې دی؛ ځکه غل مباشر دی، نسبت د حکم مباشر ته کیږي، نه هغه متسبب ته چې غل ته یې د مال غلا کولو په موخه لار ورښودلې وه.[44]

مادة ۹۳: « الْمُتَسَبِّبُ لَا يَضْمَنُ إلَّا بِالتَّعَمُّدِ »[45]

ژباړه: متسبب باندې تاوان نشته مګر، چې قصد د تاوان ولري.

کله چې په متسبب کې لاندې درې شرطونه پوره شوه، په تاوان ورکولو باندې مکلف دی:

۱) متسبب به قصد د ضرر رسولو لري.

۲) متسبب به متعدي او تجاوز کوونکی وي.[46]

۳) د سبب او متسبب تر منځ به د بل شخص عمل(کړنه) موجود نه وي، که د بل آزاد کس عمل موجود وي، نو په دغه صورت کې نسبت د فعل مباشر ته کېږي نه متسبب ته.[47]

کله چې په متسبب کې پورته درې شرطونه پوره شي، په تاوان ورکولو باندې مکلف دی.

لکه یو کس چې د امیر له اجازې پرته پر عامه لاره څاه وکاږي او په دې څاه کې د بل کس حیوان ولوېږي او پکښې مړ شي، په دغه صورت کې تاوان په متسبب باندې دی؛ ځکه له خپل حق څخه یې تجاوز کړی او په عامه لاره کې یې د امیر له اجازې پرته څاه کېندلی دی.[48]

### ۳. د څېړونکي نظر

دا خو ښکاره خبره ده، چې په حنفي فقه کې مفتي ته متسبب ویل شوی دی او په متسبب باندې هغه وخت مالي تاوان راځي، چې کله د متسبب او سبب ترمنځ د بل شخص اختیاري فعل موجود نه وي، که د بل شخص اختیاري فعل موجود وي، نو نسبت د فعل مباشر ته کېږي، نه متسبب ته. د مفتي د فتوی ورکولو په صورت کې د مستفتي خپل عمل موجود دی، مستفتي خپل مال په خپله

---

[41]. اصلي نوم یې أحمد بن محمد مکي، ابو العباس، شهاب الدین الحسیني الحموي دی، د پیدایښت نېټه یې معلومه نه ده، په (۱۰۹۸ هق) کال کې وفات شوی دی، نوموړی مصری عالم او د حنفي علماوو څخه دی، ډېر کتابونه یې لیکلي دي، چې مشهور یې: (غمز عیون البصائر - ط) في شرح الاشباه والنظائر لإبن نجم) دی. الزرکلي، *الأعلام*، ۲۳۹/۱.

[42]. ابو العباس شهاب الدین أحمد بن محمد مکي الحسیني الحموي الحنفي، غمز *عیون البصائر شرح کتاب الأشباه والنظائر (الزین العابدین إبن نجیم المصري)*، تحقیق. *شرح مولانا السید أحمد بن محمد الحنفي الحموي* ( بیروت: دار الکتب العلمیة ، ۱۴۰۵ هق – ۱۹۸۵ م)، ۴۶۶/۱.

[42]. زین الدین بن ابراهیم بن محمد المعروف بإبن نجیم المصري، *الأشباه والنظائر* ( بیروت: دار الکتب العلمیة، ۱۹۹۹ م)، ۱۸۷.

[43]. زین الدین بن ابراهیم بن محمد الشهیر بإبن نجیم، *الأشباه والنظائر* ( افغانستان: هرات، جدید صداقت کتب خانه، بی‌تا)، ۱۸۷.

[44]. جمعیة المجلة، *مجلة الأحکام العدلیة*، ۲۷/۱.

[45]. علي حیدر، *درر الحکام شرح مجلة الأحکام*، ۸۳/۱.

[46]. وَهْبَة الزُّحَيْلِيّ، *الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ* (دمشق: دار الفکر، بی‌تا)، ۵۹۵/۶.

[47]. محمد خالد الاتاسي، شرح *المجلة* (بشاور: مکتبة الحقاني، بی‌تا)، ۲۴۷/۱.

تلف او له منځه وړي، نو قاعده هم داده، چې په یو عمل کې مباشر او متسبب یو ځای شي، نسبت د فعل مباشره ته کېږي، نه متسبب مفتي ته.

که مفتي مستفتي ته په خپله فتوی سره قصد د ضرر رسولو ولري او یا نا أهله مفتي وي، د فتوی ورکولو مستحق نه وي، له خپل حق نه تجاوز کوي او خلکو ته فتوی ورکوي او دغه فتوی یې د مستفتي د مالي تاوان سبب شي، بیا هم په مفتي باندې مالي تاوان نشته، ترڅو چې مستفتي د خپل مال د تلف کولو مباشر وي. د دې مثال داسي دی، لکه یو شخص چې په عامه لاره کې د أمیر له اجازې پرته ځاه وکېندي، یو بل شخص راشي دغه ځاه ته یې د قتل په موخه دریم شخص واچاوه او پکې مړ شو ، نو د ځاه په کېندونکې باندې تاوان نشته بلکې تاوان په هغه چا دی، چې شخص یې ځاه ته اچولی دی؛ ځکه ځاه کېندونکی متسبب دی، کله چې متسبب د مباشر سره په فعل کې یوځای شي، نسبت د فعل مباشر ته کېږي.[٤٩]

**٤. د مالکیه علماوو له نظره**

د مالکي مذهب د فقهاوو نصوص د مفتي د تاوان په هکله په لاندې ډول دي:

**٤. ١.** بن رشد او المواق رحمهما الله په دې آند دي، که مفتي په خپله فتوی کې خطا شي، مالي تاوان باندې نه شته.

ـ د مالکي مذهب علماوو څخه المواق د ابن رشد رحمه الله قول په خپل کتاب التاج والإکلیل کې داسي نقل کوي :« نص ابن رشد فیمن أفتی بعدم إرث من یستحق الإرث فدفع ذلك الإرث للفقراء أن المفتي لا ضمان علیه إذا لم یکن منه أکثر من الغرور بالقول ».[٥٠]

ژباړه: د ابن رشد متن د هغه مفتي هکله چې یو کس د میراث مستحق وي، د میراث د نه ورکولو فتوی ورکړي، بیا وروسته دغه میراث غریبانو ته ورکړي ، په مفتي باندې تاوان نشته تر څو پورې چې مفتي له قولې دوکې او فرېب څخه پرته بل څه نه وکړي.

یعني: د مفتي قصد او اراده مستفتي ته د ضرر رسولو نه وي.

ـ أبو عبدالله المواق فرمایي:« وقد تقدم فتیا ابن رشد بأن المفتي لا یضمن إن أفتی بمال لغیر مستحقه إذ هو غرور بالقول والصحیح لا یضمن به ».[٥١]

ژباړه: مخکې د ابن رشد فتوی ذکر شوه، که مفتي غیر مستحق ته د مال د ورکړې فتوی صادره کړي، تاوانورباندې نشته؛ ځکه مفتي په خپل قول سره دوکه(خطا) کړې ده، صحیح قول هم دا دی، چې په مفتي باندې تاوان نشته.

د مالکي علماوو څخه المواق په دې باندې تصریح کوي، چې په مفتي باندې تاوان نشته .

**٤. ١.** امام دسوقي رحمه الله فرمایي: که مفتي مجتهد وي مالي تاوان باندې نه شته او که مقلد وي بیا تاوان باندې شته.

امام دسوقي رحمه الله فرمایي: « أَنَّ مَنْ أَتْلَفَ بِفَتْوَاهُ مُجْتَهِدًا لَا یَضْمَنُ ، وَمُقَلِّدًا یَضْمَنُ إنْ انْتَصَبَ أَوْ تَوَلَّی فِعْلَ مَا أَفْتَی بِهِ ، وَإِلَّا فَغُرُورٌ قَوْلِيٌّ لَا ضَمَانَ فِیهِ ، وَیُزْجَرُ».[٥٢] ژباړه: څوک چې په خپله فتوی باندې یو شي تلف کړي، که چېري هغه مجتهد وي، تاوان باندې نشته او که چېري مقلد وي او د فتوی لپاره تاکل شوی وي، یا د څه فتوی چې ورکوي هغه په خپله وکړي، نو تاوان باندې لازم دی او که داسي نه وي (که نه د فتوی لپاره گمارل شوی وي او نه یې هغه څه تر سره کړي وي، په کوم شي کې چې یې فتوی ورکړې ده)، نو په دې صورت کې یواځې قولي دوکه ده، هیڅ تاوان باندې نشته، اما تعزیري سزا به ورکول کېږي.

د مالکي مذهب علماوو د نظریاتو څخه داسي معلومیږي، که مفتي په خپله فتوی باندې یو شئ تلف کړي، مالي تاوان باندې نه شته؛ ځکه مستفتي یې په خپل قول سره دوکه او خطا کړې ده، له دې پرته یې بل څه نه دي کړي.

---

[٤٨]. إبن نجیم، *الأشباه والنظائر*، ١٣٥؛ الزُحَیْلِيّ، *الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ*، ٥٩٥/٦.

[٤٩]. أبو عبدالله، *التاج والإکلیل لمختصر*، ٢٠٠/٥.

[٥٠]. أبو عبدالله، *التاج والإکلیل لمختصر*، ٢٨٤/٥.

[٥٢]. الدسوقي، *حاشیةالدسوقي علی الشرح الکبیر*، ٢/١.

د قولي غرور څخه هدف دا دی: که مباشر او متسبب(قولي دوکه) سره یوځای شي، نو مباشر په متسبب باندې مخکې دی، دا یوقول دی.

څيني بيا متسبب(قولي دوکه) مخکې کوي او د تاوان نسبت متسبب ته کوي، نو په همدې بنا باندې که مفتي په خپله فتوی سره يو شئ تلف کړي، نوموړی به تاوان ورکوي او که نه؟ دغه مسئله هم په دغه دوو قولونو باندې بنا ده.

**۵. د شافعي علماوو له نظره**

د شافعي مذهب علماوو څخه مختلف اقوال نقل شوي دي چې خلاصه یې په لاندې ډول ده:

**۱.** د أبو اسحق الإسفرائيني دی، چې اما نووي[۵۳] او ابن صلاح[۵۴] رانقل کړی دی:

امام نووي رحمه الله فرمايي: «إِذَا عُمِل بِفَتْوَاهُ فِي إِتْلاَفٍ فَبَانَ خَطَؤُهُ ، وَأَنَّهُ خَالَفَ دَلِيلاً قَاطِعًا فَعَنْ أَبِي إِسْحَاقَ أَنَّهُ يَضْمَنُ إِنْ كَانَ أَهْلاً لِلْفَتْوَى ، وَلاَ يَضْمَنُ إِنْ لَمْ يَكُنْ أَهْلاً لِلْفَتْوَى ، لأَنَّ الْمُسْتَفْتِيَ قَصَّرَ . حَكَاهُ أَبُو عَمْرٍو وَسَكَتَ عَلَيْهِ وهو مشكل وينْبَغِي أَنْ يَخْرُجَ الضَّمَانُ عَلَى قَوْلَيِ الْغُرُورِ الْمَعْرُوفَيْنِ فِي بَابَيِ الْغَصْبِ وَالنِّكَاحِ وَغَيْرِهِمَا، أَوْ يُقْطَعُ بِعَدَمِ الضَّمَانِ ، إِذْ لَيْسَ فِي الْفَتْوَى إِلْزَامٌ وَلاَ إِلْجَاءٌ ».[۵۵]

ژباړه: کله چې د مفتي په فتوی باندې عمل وشي او د نوموړي مفتي فتوی باندې يو شي تلف او له منځه لاړ شي او وروسته معلومه شي، چې مفتي په فتوی کې خطا شوی دی، اوس که چیري د نوموړي مفتي فتوی د قاطع دلیل سره مخالفه وي، د ابو اسحاق الإسفرائيني څخه روايت دی: که مفتي د فتوی ورکولو اهليت درلودی، نو مکلف دی چې تاوان ورکړي او که چېري يې د فتوی ورکولو اهليت نه درلودی، نو په مفتي باندې تاوان لازم نه دی؛ ځکه مستفتي په خپله برخه کې تقصير کړی دی، چې د غير أهل نه يې فتوی غوښتلې ده.

همدغه قول شيخ ابو عمرو نقل کړی او سکوت يې باندې کړی دی، دغه قول مشکل دی لازمه داده چې دغه تاوان په قولي غرور(دوکه) باندې تخريج کړل شي، چې د غصب نکاح او نورو بابونو کې مشهور دی او يا فيصله په عدم تاوان باندې وشي؛ ځکه په فتوی کې هيڅ الزام او اجبار نشته.

**۲.** فقيه زکريا الأنصاري او محمد مصطفى الزحيلي د شافعي فقهاوو څخه فرمايي چې هيڅ ډول تاوان نه شته.

زکريا الأنصاري فرمايي: « وَإِنْ أَتْلَفَ بِفَتْوَاهُ ما اسْتَفْتَاهُ فيه ثُمَّ بَانَ أَنَّهُ خَالَفَ الْقَاطِعَ أو نَصَّ إمَامِهِ لم يَغْرَمْ من أَفْتَاهُ وَلَوْ كان أَهْلاً لِلْفَتْوَى إذْ ليس فيها إلْزَامٌ ».[۵۶] ژباړه: که مستفتي د مفتي په هغه فتوی باندې يو شي تلف کړي، کوم چې مستفتي يې پوښتنه کړې وه، بيا وروسته دا خبره څرګنده شوه، چې دغه فتوی يې د قاطع نص خلاف وه، يا د خپل امام د قول څخه يې خلاف فتوی ورکړې وه، نو په هغه چا باندې چې فتوی يې ورکړې ده، هيڅ تاوان نشته که څه هم مفتي د فتوی أهل وي، ځکه په فتوی کې هيڅ الزام او اجبار نه شته.

همدا ډول محمد مصطفى الزحيلي فرمايي:« وقال بعضهم: والمقرر في الفروع عدم الضمان مطلقا لا على المجتهد ولا على المفتي وإن لم يکن عالما لأن المباشرة مقدمة على السبب».[۵۷]

**ژباړه:** څينو شافعي علماوو ويلي دي: په فروعو کې هم دا ثابته شوې ده، چې په مفتي باندې مطلق تاوان نه شته، هغه که مجتهد وي او که مفتي، که څه هم دغه مفتي عالم نه وي، دليل دا دی چې مباشر په متسبب باندې مخکې وي.

---

[۵۳]. اصلي نوم يې يحيى بن شرف بن مري بن حسن الحزامي الحوراني، النووي، الشافعي، أبو زكريا، محيي الدين دی، نوموړی د سوريې عالم دی، په (۶۳۱ ه‍ق ) کال کې پيدا شوی او په (۶۷۶ ه‍ق) وفات شوی دی، د مشهورو کتابونو څخه يې: " تهذيب الاسماء واللغات - ط " و" منهاج الطالبين - ط " دي. الزركلي، *الأعلام*، ۱۴۹/۸.

[۵۴]. اصلي نوم يې ( عثمان بن عبد الرحمن (صلاح الدين) إبن عثمان بن موسى بن أبي النصر النصري الشهرزوري الكردي الشرخاني، أبو عمرو، تقي الدين، المعروف بإبن الصلاح) دی، نوموړي په ( ۵۷۷ هـ ش) کال کې پيدا شوی او په (۶۴۳ ه‍ش) کال کې وفات شوی دی، فقيه، مفسر او محدث دی. الزرکلي، *الأعلام* ،۲۰۷/۴.

[۵۵]. النووي، *المجموع شرح المهذب*، ۴۶/۱؛ او إبن الصلاح، *أدب المفتي والمستفتي*، ۴۶/۱.

[۵۶]. زکريا الأنصاري، *أسنى المطالب في شرح روض الطالب*، ۲۸۶/۴.

[۵۷]. الزحيلي، *القواعدالفقهية و تطبيقاتها في المذاهب الأربعة*، ۴۸۳/۱.

یعني تاوان په مباشر ( مستفتي ) دی، په مفتي ( متسبب ) باندې نه شته.

**٦. د حنبلي علماوو له نظره**

د حنبلي علماوو څخه امام البهوتي[58] رحمه الله فرمایي: «( وإن بان خطؤه ) أي الحاكم ( في إتلاف ) كقطع وقتل ( لمخالفة دليل قاطع أو ) بان ( خطأ مفت ليس أهلا ) للفتيا ( ضمنا ) أي الحاكم والمفتي لأنه إتلاف حصل بفعلهما أشبه ما لو باشراه وعلم منه أنه لو أخطأ فيما ليس بقاطع مما يقبل الاجتهاد لا ضمان».[59]

ژباړه: که چېرې د یو شي په تلف کولو کې د حاکم خطا ښکاره شوه، لکه د اندام پرېکول، انسان قتل کول او دغه خطا یې د یو قاطع د لیل د مخالفت د وجهې حاصله شوې او یا د مفتي خطا ښکاره شوه په داسې حال کې چې نوموړی مفتي د فتوی ورکولو اهلیت نه درلود، دواړه (حاکم او مفتي) په تاوان ورکولو مکلف دي؛ ځکه تلف د دوی په فعل سره لاسته راغلی دی، دغه ورته والی د هغه سره لري، لکه دواړه چې په یو فعل کې مباشر وي، نو له دې څخه معلومه شوه، که چېرې په هغه مسئله کې خطا شو، چې هغه قاطع نص نه وي او د هغه مسائلو څخه وي، چې هغه اجتهادي وي، تاوان باندې نه شته.

ابن قیم [60] رحمه الله مفتي جاهل یې په طبیب جاهل قیاس کړی، طبیب جاهل کې حدیث راغلی، چې په هغه تاوان شته همدغسې په مفتي جاهل تاوان شته چې حدیث په لاندې ډول دی:[61]

وَهُوَ قَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : {مَنْ تَطَبَّبَ وَلَمْ يُعْلَمْ مِنْهُ طِبٌّ فَهُوَ ضَامِنٌ}.[62]

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې د طبابت چارې مخته وړي او په طب کې معلومات ونه لري، نو د ده له طبې کړونو څخه چې کوم څه رامنځته کیږي، نوموړی کس د هغه ضامن دی.

او بله خبره داده، چې مستفتي د مفتي د فتوی په صدور باندې دوکه شوی دی؛ ځکه مفتي د فتوی ورکولو اهلیت نه درلودی.[63]

**٧. تحلیل او مقارنه**

په مفتي باندې د مالي تاوان په مسئله کې علماء اختلاف لري، مگر دغه اختلاف ډېر ژور نه دی، بلکې د فتوی حالت ته په کتو سره دی، هغه علماء چې د مفتي په فتوی باندې عمل کول لازم نه بولي، دوی وایې: که یو مفتي په مسئله کې سهوه شي او له دغه سهوې څخه مالي تاوان رامنځته شي، نو په نوموړي مفتي باندې تاوان نه شته؛ ځکه مستفتي اختیار لري چې د مفتي په فتوی باندې عمل کوي او کنه. بل داچې رسول الله صلی الله علیه وسلم مفتي ته مأجور ویلې، اجر(ثواب) او تاوان په یوه مسئله کې نه شي یوځای کېدای.

مگر هغه علماء چې د مفتي په فتوی باندې عمل کول لازم گڼي، دوی وایي: که یو مفتي په یوښتل شوې مسئله کې سهوه شي، نو په دغه مفتي باندې مالي تاوان لازم دی؛ ځکه هغه مفتي هیڅ معذور نه دی، چې د قران، سنت او اجماع څخه مخالفه فتوی خلکو ته ورکوي.

---

[58]. اصلي نوم یې منصور بن یونس بن صلاح الدین إبن حسن بن إدریس البهوتی الحنبلی دی، په مصر کې د خپل وخت د مشهورو علماوو څخه و، نسبت یې(بهوت) ته کېږي، چې د مصر په غرب کې واقع ده، نوموړی عالم په ( ١٠٠٠ ه‍ق ) کال کې پیدا شوی او په ( ١٠٥١ ه‍ق ) کال کې وفات شوی دی، د مشهور کتابونو له جملې څخه یې: (کشاف القناع عن متن الاقناع للحجاوی - ط ) دی. الزرکلي، *الأعلام*، ٣٠٧/٧.

[59]. البهوتي، *كشاف القناع عن متن الإقناع*، ٣٦٠/٦.

[60]. اصلي نوم یې (محمد بن أبي بكر بن أیوب بن سعد الزرعي الدمشقي، أبو عبدالله، شمس الدین) دی، د دمشق له کبارو علماوو څخه دی، په (٦٩١ ه‍ق ) کې پیدا شوی او په (٥٧١ ه‍ق) کال کې وفات شوی دی، د شیخ الاسلام إبن تیمیه رحمه الله شاگرد وو، د مشهور کتابونو له جملې څخه یې: (إعلام الموقعين - ط) و (الطرق الحكمية في السياسة الشرعية - ط). الزرکلي، *الأعلام*، ٥٦/٦.

[61]. محمد بن أبي بكر أيوب الزرعي أبو عبدالله، *إعلام الموقعين عن رب العالمين* ( بیروت: دار الجیل، ١٩٧٣ م)، ٤/ ٢٦٦- ٢٢٦.

[62]. أبو داود سليمان بن الأشعث السجستاني، *سنن أبي داود* (بیروت: دار الکتاب العربي، بی‌تا)، " دیات" ٢٥ (٤٥٨٦).

[63]. الزرعي، *إعلام الموقعين عن رب العالمين*، ٢٢٦/٤.

**۸. د څېړونکې نظر**

دا ښکاره خبره ده، چې مفتي متسبب دی، که په متسبب کې دوه ځانګړې شرطونه موجود شي، نو په هغه باندې مالي تاوان راځي. له هغه شرطونو څخه یو دا دی، چې متسبب به قصد او اراده د ضرر رسولو لري او بل شرط دا دی، چې له خپل حق نه تېرى وکړې یعني داسي کړنه تر سره کړي چې شریعت دهغې کړنې اجازه نه ورکوې، که دغه دوه شرطونه یوځای په متسبب کې موجود شوه، نو مالي تاوان ور باندې لازم دی.

که مفتي په خپله فتوی سره یو شخص ته قصد د ضرر رسولو ولري او د دې تر څنګ عالم هم نه وي، پرته له علمه خلکو ته فتوی ورکوي، نو د نوموړي مفتي له فتوی څخه چې کوم مالي تاوان رامنځته کېږي د هغه په ورکولو باندې مکلف دی. و الله أعلم

**۹. ترجیح**

ښکاره نصوص د حنفي مذهب تأید کوي، چې په لاندې د لائلو سره ترجیح ورکول کېږي:

**۹. ۱.** په مفتي باندې د مالي تاوان په نه لازم کېدو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول واضح دی: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایي:{عَنْ جَابِرٍ قَالَ خَرَجْنَا فِي سَفَرٍ فَأَصَابَ رَجُلاً مِنَّا حَجَرٌ فَشَجَّهُ فِي رَأْسِهِ ثُمَّ احْتَلَمَ فَسَأَلَ أَصْحَابَهُ فَقَالَ هَلْ تَجِدُونَ لِي رُخْصَةً فِي التَّيَمُّمِ فَقَالُوا مَا نَجِدُ لَكَ رُخْصَةً وَأَنْتَ تَقْدِرُ عَلَى الْمَاءِ فَاغْتَسَلَ فَمَاتَ فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه و سلم- أُخْبِرَ بِذَلِكَ فَقَالَ قَتَلُوهُ قَتَلَهُمُ اللَّهُ أَلاَّ سَأَلُوا إِذْ لَمْ يَعْلَمُوا فَإِنَّمَا شِفَاءُ الْعِيِّ السُّؤَالُ إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيهِ أَنْ يَتَيَمَّمَ وَيَعْصِرَ. أَوْ « يَعْصِبَ ». شَكَّ مُوسَى عَلَى جُرْحِهِ خِرْقَةً ثُمَّ يَمْسَحَ عَلَيْهَا وَيَغْسِلَ سَائِرَ جَسَدِهِ}.[٦٤] ژباړه: جابر رضي الله عنه وایي: چې مونږ په یو سفر باندې ووتلو زمونږ له جملې څخه د یو کس سر ته ډبره ورسېده او په سر کې یې زخم پیدا شو، بیا په همدې زخمي حالت کې احتلام ورته پېښ شو، ده د خپلو ملګرو څخه د تېمم د رخصت په هکله پوښتنه وکړه، چې آیا زما لپاره د تیمم رخصت(اجازه) شته؟ ملګرو یې ورته وویل: مونږ ستا لپاره رخصت نه وینو؛ ځکه ته د اوبو په استعمال باندې قادر یې، زخمي صحابي په اوبو باندې غسل وکړ او له دې زخم څخه د اوبو په سبب مړ شو، راوي وایي: کله چې مونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلو، په یاده واقعه مو خبر کړ، رسول الله صلى الله علیم وسلم وفرمایل: تاسو دغه صحابي مړ کړی، الله تعالی دې تاسو قتل کړي، چې نه پوهېدلاست ولې مو پوښتنه نه کوله؟ ځکه د ناپوهۍ دوا سوال دی، د ده لپاره دا کافي وه چې په خپل زخم به یې پټه تړلې وای او بیا یې په هغه مسحه کړې وای او نور بدن به یې پریمنځلی وای. وجه د استدلال: دا ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په فتوی ورکوونکو باندې هیڅ نوعه مالي تاوان وضع نه کړ، یواځې توبیخي خبره یې ورته ذکر کړه.

**۹. ۲.** په فقه کې عامه قاعده ده، چې تاوان په مباشر وي نه په متسبب، دلته مفتي متسبب دی مباشر نه دی.

مادة: ۹۰: « إِذَا اجْتَمَعَ الْمُبَاشِرُ وَالْمُتَسَبِّبُ أُضِيفَ الْحُكْمُ إلَى الْمُبَاشِرِ».[٦٥]

ژباړه: کله چې مباشر او متسبب سره یوځای شي، د حکم نسبت مباشر ته کېږي، نه متسبب ته.

د استدلال وجه: ښکاره خبره ده، چې مفتي د مال په لمنځه وړلو کې مباشر نه دی، بلکې مباشر خپله د مال تلف کوونکی دی او د تاوان نسبت هم ده ته کېږي.

**ز: نا اهله مفتي ته تعزیر ورکول**

هر هغه څوک چې د فتوی ورکولو أهل نه وي او هغه ځان مفتي کړی وي، د هغه تعزیر ضروري دی، په دې سلسله کې هیڅ رعایت کول نه دي پکار، مفتي خو په ظاهره د الله تعالی او بنده ګانو ترمنځ واسطه وي، نو ځکه که داسي اشخاص منعه نه کړل شي، نو د مفاسدو دروازې به خلاصې او د باری تعالی مخلوق به په ګمراهۍ کې اخته شي. څوک چې د افتاء لایق نه وي او هغه په دې عظیم

---

[٦٤]. سنن أبی داود، " طهارت"، ۱۲۷ (۳۳٦)؛ قال البيهقي في المعرفة: هذا الحديث أصح ما روي في هذا الباب، مع اختلاف في إسناد. جمال الدين أبو محمد عبدالله بن يوسف بن محمد الزيلعي، *نصب الراية لأحاديث الهداية*. المحقق. محمد عوامة( بيروت: دار القبلة للثقافة الإسلامية، ۱۹۹۷ م)۱۸۷/۱.

[٦٥]. لجنة مكونة من عدة علماء وفقهاء في الخلافة العثمانية، *مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ*، ۲۷.

منصب باندې ځان مقرر کړي، د هغه تعزير په شدت سره لازم دی او داسي سختې د دغه ډول خلکو سره ځکه پکار ده، چې هغه بیا داسي جرأت ونه کړای شي، ځکه که داسي ونه شي نو دبې انتها مفاسدو دروازې به خلاصې شي.[٦٦]

علامه ابن خلدون رحمه الله فرمايي: د فتوی لپاره د وخت پر خليفه باندې دا فرض ده، چې هغه صاحب د درس، تدريس او لائق شخص پلټنه وکړي او بیا د دغسي کس کومک کول هم پکار دي او ځوک چې اهل نه وي، هغه منعه کول پکار دي، سره له دې زجر هم بايد ورکول شي؛ ځکه دا یو مهمه او ديني ذمه داري ده، که ددې منصب رعايت ونه شي، نو نا أهله خلک به راشي او خلک به په گمراهۍ کې اخته کړي.[٦٧]

[٦٦]. مفتي عزيز الرحمن عثماني، *فتاوی دارالعلوم ديوبند*، ژباړن. محمد احمد حقاني (افغانستان: کندهار مکتبه حبيبيه،١۴٢٩ ه ق)، ١/ ١٠٠ـ ١٠١.

[٦٧]. إبن خلدون، *مقدمه إبن خلدون*، ١٦٥.

**پایله**

فتوی ورکول یو لوی او دروند مسؤلیت دی، هر کس باید د فتوی ورکولو څخه ډډه وکړي، څوک چې فتوی ورکوې د سمې او ناسمې فتوی أصول به ورته معلوم وي؛ځکه کوم کس چې د فتوی ورکولو اهلیت ونه لري د وخت حاکم باید هغه ته تعزیري سزا ورکړي. په فتوی کې هیڅ ډول الزام نه شته، مستفتي د مفتي په فتوی باندې د عمل کولو او نه کولو ترمنځ اختیار لري.

مفتي متسبب دی او په متسبب باندې هغه وخت تاوان راځي، چې د متسبب شرطونه پکې موجود شي، د هغه شروطو څخه یې لومړی شرط: د متسبب او سبب ترمنځ د بل آزاد، مختار شخص فعل موجود نه وي، که موجود وي نو په دې صورت کې تاوان په مباشر دی، نه په متسبب. دوهم شرط: متسبب به د خپل حق څخه تجاوز کړي وي، دریم شرط: متسبب به د قصد او ضرر رسولو اراده لري.

مفتي سره له دې چې متسبب او د مال په له منځه وړلو کې مباشر نه دی، که بیا هم تاوان باندې لازم شي، په ټولنه کې به د فتوی ورکولو مسؤلیت څوک په غاړه نه أخلي؛ ځکه هر مفتي به دا گمان کوي، که په مسئله کې خطا شوم، د مالي تاوان مسؤلیت یې زما په غاړه دی. که مفتي د فتوی ورکولو أهلیت ونه لري، نو په حاکم باندې لازمه ده، چې د فتوی ورکولو څخه یې منعه کړي. هغه مفتي چې خلکو ته ناسمې فتواوې ورکوي د وخت دحاکم له لوري باید تعزیري سزا ورکړل شي.

## مراجع

**القرآنالکریم**

- ترجمه *قرآن کریم*، مترجم. محمود حسن دیو بندي، *کابلي تفسیر*. پاکستان: کویته مذهبي کتب خانه ۱۳۲۳ ه‍ق.
- إبن خلدون، *مقدمه ابن خلدون*. جلد۱. بی جا، بی‌تا.
- إبن صلاح، عثمان بن عبدالرحمن أبوعمرو تقي الدین المعروف بابن الصلاح. *أدب المفتي والمستفتي*. تحقیق. موفق عبدالله عبد القادر. ج۲. بیروت: مکتبة العلوم والحکم عالم الکتب، لومړي چاپ، ۱۴۰۷ ه‍ق.
- إبن عابدین، محمد امین الشهیر بإبن عابدین. *ردالمحتار علی الدر المختار*. تحقیق: عبدالمجید طعمه حلبي. جلد۱۲. افغانستان: کندهار، ارگ بازار، بی‌تا.
- إبن نجیم، زین الدین ابن نجیم الحنفي. *البحر الرائق شرح کنز الدقائق*. جلد ۸. بیروت: دار المعرفه، بی‌تا.
- إبن نجیم، زین الدین بن ابراهیم بن محمد الشهیر بإبن نجیم. *الأشباه والنظائر*.جلد۱. افغانستان: هرات، جدید صداقت کتب خانه، بی‌تا).
- الأتاسي، محمد خالد الاتاسي، *شرح المجلة*. جلد٦. بشاور: مکتبة الحقاني، بی‌تا.
- الأفریقي، محمد بن مکرم بن منظور الأفریقي المصري. *لسان العرب*. جلد۱۵. بیروت: دار صادر، بی‌تا.
- الألباني، محمد ناصر الدین الألباني. *السلسلة الصحیحة*. جلد۷. الریاض: مکتبة المعارف، بی تا.
- الأنصاري، زکریا الأنصاري. *أسنی المطالب في شرح روض الطالب*. تحقیق .محمد محمد تامر. جلد۴. بیروت: دار الکتب العلمیة، چ۱، ۱۴۲۲ق/۲۰۰۰م.
- بخاري، محمد بن إسماعیل أبو عبدالله البخاري الجعفي. *الجامع الصحیح المختصر*. جلد٦. بیروت: دار ابن کثیر الیمامة، ١٤٠٧ه/ ١٩٨٧م.
- البرازي، محمد فؤاد البرازي، *"مسؤولیة الفتوی الشرعیةضوابطها وأثرها في رشاد الأمة"*، تصدر عن المنتدی الإسلامي، مجلة البیان، ۱۷۸/۱( جمادي الآخرة ۱۴۲۳ق).
- البهوتي، منصور ابن یونس ابن ادریس البهوتي. *کشاف القناع عن متن الإقناع*. جلد٦. بیروت: دار الفکر، ۱۴۰۲ق.
- الجزري، أبو الحسن علي بن أبي الکرم محمد بن محمد الشیباني الجزري. *اللباب في تهذیب الأنساب*.جلد۳. بیروت: دار صادر، ۱۹۸۰.
- الحموي، أبو العباس شهاب الدین أحمد بن محمد مکي الحسیني الحموي الحنفي. *غمز عیون البصائر شرح کتاب الأشباه والنظائر،(الزین العابدین ابن نجیم المصري)*. تحقیق. شرح مولانا السید أحمد بن محمد الحنفي الحموي. جلد۴. بیروت: دار الکتب العلمیة ، ١٤٠٥ق – ١٩٨٥م.
- الحنفي، إبراهیم بن أبي الیمن محمد الحنفي. *لسان الحکام في معرفة الأحکام* . مصر: القاهرة، البابي الحلبي، ۱۹۷۳م.
- حیدر، علي حیدر. *دررالحکام شرح مجلة الأحکام*. جلد۴. بیروت: دار الکتب العلمیة ، بی‌تا.
- الدارمي، عبدالله بن عبدالرحمن أبو محمد الدارمي. *سنن الدارمي*. تحقیق. فواز أحمد زمرلي وخالد السبع العلمي، جلد۲. بیروت: دار الکتب العربیة، لومړي چاپ، ۱۴۰۷ق.
- الدخیل، عبدالرحمن بن محمد الدخیل. *الفتوی أهمیتها ـ ضوابطها ـ آثارها*. ب، م، بی‌تا ۲۰۰۷م.
- الدسوقي، محمد عرفه الدسوقي. *حاشیةالدسوقي علی الشرح الکبیر*. جلد۴. بیروت: دار الفکر، بی‌تا.
- الزحیلي، محمد مصفی الزحیلي، *القواعدالفقهیة و تطبیقاتها في المذاهب الأربعة*. دمشق: دار الفکر، ۱۴۲۷ق/۲۰۰۶م.

- الزُّحَيْلِيّ، وَهْبَة الزُّحَيْلِيّ، *الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ*. جلد ۱۰. د مشق: دار الفكر، بی‌تا، چ۴.
- الزرعي، محمد بن أبي بكر أيوب الزرعي أبو عبدالله. *إعلام الموقعين عن رب العالمي*. جلد۴. بيروت: دار الجيل، ۱۹۷۳م.
- الزركلي، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، *الزركلي الدمشقي. الأعلام*. جلد۸. ب جا: دار العلم للملايين ۲۰۰۲م، چ۵.
- الزيلعي، جمال الدين أبو محمد عبدالله بن يوسف بن محمد الزيلعي. *نصب الراية لأحاديث الهداية*. المحقق : محمد عوامة. جلد۴. بيروت: دار القبلة للثقافة الإسلامية، چ ۱. ۱۴۱۸ق/ ۱۹۹۷م.
- السجاوندي ، سراج الدين بن عبدالرشيد السجاوندي الحنفي. *السراجي في الميراث*. پاكستان: كراچي مكتبة البشرى، بی‌تا.
- السجستاني، أبو داود سليمان بن الأشعث السجستاني، *سنن أبي داود*. جلد۴. بيروت: دار الكتاب العربي، بی‌تا.
- المواق، خليل محمد بن يوسف بن أبي القاسم العبدري أبو عبدالله المواق. *التاج والإكليل لمختصر*. جلد۶. بيروت: دار الفكر، ۱۳۹۸ق .
- النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي. *المجموع شرح المهذب*. جلد ۲۰. (بی جا: بی‌تا).
- عثماني، محمد تقي عثماني. *اصول الافتاء وادابه*. پاكستان: كراچي امام محمد الغزالي، ۱۳۹۷ق.
- عثماني، مفتي عزيز الرحمن عثماني. *فتاوی دارالعلوم دیوبند*. ژباړن. محمد احمد حقاني. جلد۱۷. افغانستان: كندهار مكتبه حبيبيه.
- لجنة مكونة من عدة علماء وفقهاء في الخلافة العثمانية. *مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ*. پاكستان: كراتشي، نور محمد، كارخانه تجارتِ كتب، بی‌تا.
- محمد رواس قلعجي و حامد صادق قنيبي، *معجم لغة الفقهاء*، (بيروت: دار النفاس۱۴۴۵چ ۱).
- موقع الإسلام، *تعريف بالأعلام الواردة في البداية والنهاية لابن كثير*. جلد۲. ب، م: بی‌تا.
- نظام الدين وجماعة من علماء الهند، *الهندية مع الهامش الفتاوى البزايه* . جلد۶. پاكستان: كويته، مكتبه رشيديه، بی‌تا.